

# د یوولسم او دولسم ټولګی لپاره زراعت

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# زغفران

مقدمه : یو قدمی نبات دی چي د رنګ بوی او مزيږ له کبله د ټولی دنیا خلک ځان ته را جلب کړي .

زغفران د ډیری پخوا زماني څخه کرل کیږي د کرلو ساحی عبارت دی له یونان ، ترکیه ، اسیا سفید ، افغانستان ، ایران او داسی نور هیوادونو کي رواج لري .

چي بیا وروسته هندوستان ، چین د غرب نه تر هسپانیا پورې مورج شو .

زغفران د نورو نباتاتو په پرتله کمو اوبو ته اړتیا لري او هم د اقتصاد له کبله په نورو نباتاتو اوچت قیمت لري .

## د فصل موده یا وخت

په ژمی او منی کی زغفران حاصل ورکوي کوم مهم امراض او افات نه لري .

## د زغفرانو تولیدونکي هیوادونه

عبارت دی له ایران په کال کی ۲۰۰ ټنه یونان په کال کی ۵،۷ ټنه مراکش ۲،۳ ټنه ، کشمیر ۲،۳ ټنه اسپانیا ۱ ټن افغانستان ۴ ټنه ، ایتالیا ۱ ټن ، او ټوله نړی فعلا ۱۷۰ ټنه زغفرانو ته اړتیا لري .

زغفرانو تقریبا لس زره کاله پخوا نوم درلوده د زغفرانو کلیمه عربی ده کوم نومونه چي د زغفرانو په اخیر کی راځي د فارسي ریښه لري زغفران په اصل کی د زیران په مغنا د ګل لاله چي په قیمت د زرا وطلا دې دغه کلیمه د زغفران بدله شوه . په فارسي او ترکی کی ورته زفرون وايي په انګلیسی کی ورته سپترون وايي .

۸۰ کاله پخوا زغفران د هرات ولایت په تخقیقاتی فارمونو کی کرل کیده په ۱۹۹۱ م کال چي مهاجرین د ایران څخه افغانستان ته راغله نو د هرات په ولایت کی د زغفرانو کرل پیل شو چي په ۱۹۹۷ م کال کی د ډاکار د موسسی لخوا د زغفرانو کرل د پښتون زرغون په والسوالی کی پیل شوه چي په ۱۳۸۱ ه ش کال کی زغفرانو لپاره بازار پیدا شو اولین کنفرانس د هرات ولایت د زراغت په ریاست کی جوړه شوه چي ډیری مثبتی پایلی درلودلې .

## د زغفرانو ځمکی اماده کول

د زغفرانو لپاره باید اول ځمکه ژوره قلبه شي بیا ورکی خیواني سره اچول کیږي د هغه څخه وروسته زغفران په دوو موسمونو کی کرل کیږي . چي غبارت د ژمی او منی څخه دي د زغفرانو غوټي لکه : د پیاز د غوټو په شان په ځمکه کی د قطار په شکل کرل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی غوټی د ۵ــــــــ۷ کیلو حاصل ورکوي . د زغفرانو لپاره شګلنې خاورې موثرې تماميږي . د دوه قطارونو تر مینځ واټن ۲۰ ــ ۳۰cm وي غوټه باید ۴ ـــ ۱۰cm ژوره وکرل شي او د دوو بوټو تر مینځ فاصله باید ۱۵ ـــــ ۲۰cm پورې وي خو نظر په شرايطو وي .

## د زغفرانو اقتصادي اهميت او کټي په لاندې ډول دي

دا چې زغفران يو طبی نبات دی او زراعتی مخصولات يی د دوا په فابريکو کی استعماليږي د زغفرانو حاصلات په دې ورونی وختونو کی زيات شوي

۱ زغفران ښايسته رنګ لري د انسانانو د اشتها راوستلو لپاره خوړل کيږي .

۲ په ځينو هيوادونو کی د چاې پر ځای هم استعماليږي .

۳ په ځينو فابريکو کی د ټوکرانو په رنګونو کی کار تری اخيستل کيږي .

۴ په عذايي موادو کی د زغفرانو څخه ګټه اخيستل کيږي .

۵ د عذايي موادو د هضم سبب کيږي .

۶ ټوخې رفع کوي.

## د زغفران نباتی خصوصيات

د زغفران بوټی د څو برخو څخه جوړ شوی چی ريښه ، ساقه ، پاڼی او د ګل څخه عبارت دي . د ګل په وخت کی د ۶ ــ ۹ پورې باريکه پاڼی لري د ۱ ــ ۴ پورې غوټی نيسي چې دغه غوټی وروسته پاڼې او ګلونو وظيفه په غاړه لري .چی د هرې غوټی پر مخ ۲ ــ ۳ پورې ګلان په بنفش رنګ سره ښکاره کيږي .

## د زغفرانو ډولونه

عبارت دی له : زير زغفران ، بنفشی زغفران ، سپين زغفران ، خړ زغفران ، ښايسته زغفران او خوراکی زغفران .

د حاصل راټولول

کله زغفران ګل وکړي نو په همدې موسم کی د زغفرانو ګلان راټوليږي او فابريکی ته وړل کيږي چی د پروسيس لاندې نيول کيږي او مختلف مواد ور څخه لاس ته راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسور

یو تیلی نبات دی چی ۳۵۰۰ م کاله مخکی د میلاد څخه مصر کی کرل کیده د تاریخ په اوږدو کی بیا هند ، پاکستان ، امریکا او افریقی ته راوړل شو .

چی د دې نبات په ګل کی کارت مین carthamine کارتمین  په نوم یوه رنګه ماده ده چی د رنګ جوړلو په فابریکه کی په کار وړل کیږي .

## Meat and oil

د دې وریتې تیل او کنجاړه چه په صنعت کی پکار وړل کیږي او د دې وریتې نه ۳۲ ٪ نه تر ۴۰ ٪ پوری تیل لاسته راځی .

## د مسورو نباتی خصوصیات

د دې نبات د اصلی ساقی لوړ والی د ۲۰ ــ ۴۰  cm پوری رسیږي ګل یی ټیکلی ته ورته شکل لري دغه ټیکلی د خو ګلانو څخه تشکیل شوی دي . د ګل سیستم ساده دي د ګل رنګونه زیړ ، سور ، نارنجی او سپین شکل لري پاڼې یی ساده شکل لري د ریښو سیستم یی taproot  ټاپروټ دي

## توافق

دا نبات په هغو خاورو کي کرل کیږي چی د هغوی د حرارت درجه $c^o$ ۵۰ ته ورسیږي

د فصل د نمویی موده د ۱۵۰ نه تر ۲۰۰ ورځو پورې رسیږي د تخم کرل په دوه طریقو سره دي یوه یی خطی کرل او بل یی د پاشان طریقه ده .

په ابی ځمکو کي kg/h ۳۰ تخم اچول کیږي تخم cm ۵ ژور اچول کیږي .

د دوو نباتاتو تر مینځ واټن د cm ۳ نه تر cm ۶ پوری او د قطارونو ترمینځ واټن cm ۵۰ وي . د کرلو وخت د خمل د ۱۵ نه تر ثور ۱۵ پورې دي د حاصل اندازه د ابي ځمکی څخه ton/h ۲-۳ او د للمي ځمکي ۱-۱/۲TN/H .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمر کلي يا sun flowers سون فلاور

لمر ګلی د ۱۶ پیړی نه مخکی په امریکا کی کرل کیده چه بیا وروسته هسپا نې ته راوړل شواودغوړیولپاره ورڅخه کار واحستل شو چه نن ورځ یو تیلی نبات په نوم ئې پیژنو

لمرګلی ډیر اقتصادي ارزښت لري چه تقريبا د ٪ ۵۰-۴۰ پوري تيل لری کنجاړه يي دپورتين ډيره ښه منبع ده چی حیواناتوته ورکول کيږي. او په ځینی هیوادونو کی دزینتي نباتاتو په حیث هم کرل کيږي

## لمرګلی نباتی خصوصیات

علمي نوم یيhelian thesuannuos هیلین تیسونوس دی

کورنی نوم يي copmositeaeکوم پستیا

نبات يو کلن نبات دی چه د1mنه تر6mپوری لوړوالی لری اوقطر يي د 2cmنه تر 5cmپوری رسیږي

ګلي ساحه يي دheadهيډ په نوم سره يادی ی پاڼي يي ساده شکل لری او د ګل سیستم يي مرکب دی ریښيtaprootټاپ روټ دي ودی نبات تیکای په دوه ډوله دی چي عبارت ۱tubular تیو بلر

۲ disk ډسک

شکل لری چي هر ګل يي یوتخم تولیدوی چي دachene اچین په نوم سره یادیږي tubular تیو بلر او disk ډسک قطرونه يي د ۸ سانتی متر نه تر 60cm پوري رسږي د ګرده افشاني سیستم يیcrossbollinationکراس پولینشن دی لمرګلی په سهار کی شرق حواته او په مازیګر کې غرب حواته مایله وی چه دغه عمل د neutation نیو تیشن په نوم سره یادیږي

توافق

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو واريټي د commandarپه نوم سره يادېږي چې دبحر د سطحې نه 1800m پورته هم کرل کيږي دغه ورټي ديو هکتار ځمکې څخه 1455kgحاصل ورکوي په هغه ځايو نو کې چې لمر ګلی کرل کيږي چه په هغه ځای کی غنم جور او داسې نور نباتات هم کرل کيږي

ځمکه بايد اول ښه واړول شی قطارونه بايد شمال او جنوب ته جوړ شی د قطارونو تر مينځ واټن د 60 نه تر 70 cm پوري وي د دوو نباتاتو ترمنځ واټن بايد 30 نه تر 40cm پوري وي تحم بايد 5 نه تر 7cm پوري ژور وکرل شی په يو لای کی 4 نه 5 دانو پوري تحم واچول شی محکې دکرلو نه تحم 24 ساعته په اوبو کی واچول شی په يو هکتار ځمکه کی بايد12 نه تر 14kg تحم واچول شی دکيمياوي سرو استعمال 100kg يوريابايد په يو هکتار کی واچول شی اوD.A.P 100kg بايد ورکې واچول شی .

کله چه نباتات 20 نه تر 25cm پورې ورسيده او له اوبه ور کول کيږي کله چه نباتات غټ شی دوهمه ځل اوبه ورکول کيږي دريمه اوبه کله چې ګل ته ورسيده او نور هر 10 ورځ بغد اوبه ورکول کيږي

## شولې يا وريجې

د ډيری پخوا زمانی راهيسی شولی زمونږ په هيواد کی کرل کيږی

اودغه عله جاتو يو برحه جوړه وي شولی ننګرهار،کنړ،لغمان،بلخ،دهيواد په نورو سيمو کی کرل کيږي چې شولو فصل کافی اوبو ته ضرورت لري او د 90-150 ورڅو کی شولو فصل څخه حاصل لاس ته راځی شولی دوه ډوله دي

1 مينی وريجی

2 غټی وريجی

زمونږ په هيواد کی محلی ډولونه عبارت دي له باره،لونګينی،پشيدی،اوصدری وريجوڅخه عبارت دي حو په دي ورستي وحتونو کی ځينی وراتی ګانی دحارجی هيوادونو څخه را معرفی شوی چې په 1379 کال کی سوات دوه غټی وريجی بغلانی 98 مينی وريجی افغان 28 او کندوز مينی وريجی بسمتی 358 دغه وراتی ګانی لاس لاندی نيول شوی او ښه نتيجه يي ور کړی ده شولو لپاره اول قو ريه جوړيږی په قوريه کی بزعلی روزل کيږی اوله هغی څخه وروسته بيا اصلی ځای ته وړل کيږی شولو دکرلو لپاره اول بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه هواه شی اوپه اوبو کې منداؤو (غابنور ) وشی دهعی څخه وروسته بیا بزغلی انتقالؤو البته ځمکه باید هواره اوبه شوی وي او د 10-4 بویسی یعنی یوه ګیډئ ورڅخه جوړیږي اوبیا د قطار په شکل کرل کیږي دشولو دبوټو ترمنځ واټن د تجروبو له مخی د 30-10 سانتی متره ډیره ښه نتیجه ورکوي

## شولو لپاره کیموي سرو استعمال

شولو لپاره نایتروجني سري او فاسفورس لرونکی سری ډیري ګټوري دي

## شولو دکرلو وحت

تجر بو او څیړ نو ښودلی ده چې هعه شولی چه دچنګاښ د 15-5پوري وکرل شی ډیره ښه نتیجه ورکوي البته په ننګرهار کی بلح او نورو ولایتونو کی د غبر ګو لي 26-1نیټی پوری دشولو دنیال مناسب وحت تاکل شوی دی

په شولو کی زیات امراض لیدل کیږي چې اکثه بکتریاوي او پنکسی ناروغی مینځ ته راوړي چې غبارت دي له بلاست blast سرحی rostساقی چینجی اوداس نوری ناروغی هم مینځ ته راځی چې دا ناروغی په حاصل باندی منفی اغیزی اچوي باید د دی ناروغی څخه مخنیوی وشي

## شولو څرویول

شولی ډنداوبو ته ضرورت لری اودهغه نباتاتو له جملی څخه دي

چې دان ایروبیک په ډول حیل تنفس او ودي ته دوام ورکوي

شولی دوامداره اوبو ته اړتیا لری حو په احره کیچې دانه پوره کړي

اوبه په کمیدو او یا قطع کیږي پس دوچیدو وروسته ریبل کیږي

شولی د قوری نه تر پخیدو پوری ډنډ اوبو ته ضرورت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مې mung bean

مې چې په انګلیس ژبه کې ورته مونک بین ویل کیږي غلمی نوم ئې عبارت دی له phaseolus-oureus فیزولس اورس اوکورنې نوم ئې لوګو مینس logominousaea مې په دوه ډوله دي چې توری او شنی مې ددي بل اصلی رځای نمايي جنبی اسیا ښودل شوی ده حو په افریقا کې هم کرل کیږي زمونږ په هیواد کې د مې کرل لپاره مناسبی سیمی عبارت دي له هلمند کندوز لغمان کنړ ننګرهار پروان تحار کپیسا قندهار او داسی نوری سیموکی ډی ښه توافق لری مې دخپلی ودي لپاره ډیری ګرمی هوا ته اړتیا لري چې مناسبه تودوحه 28-30 ده

## میو دکرلو طریقه

مې پهدوه طریقو سره کرل کیږي دکتار طریقه دپاشان طریقه

A دکتار طریقه :دمیو دکرلو لپاره ښه او غوره طریقه ده د دؤو قطارونو تر منځ

واټن باید 30cmوي اودبوټوترمنځ واټن 100cm سانتی متره وي پدی طریقه کی

دهرزه بوټوکنترول اود حاصل راټولوکی اسا نتیا رامنځ ته کیږي

Bپاشان طریقه : دپاشان طریقه یوه ډیره اسانه اوساده طریقه ده چې د ډیرو کلونو راهسی کارول کیږي حو ځینی ستو نزی لری لکه دکرنیزو غملیو حاصل راټو لول دوا شیندل دهزره بوټوکنټرولاوداسی نور حو کله چې مونږبې حر کاوه کړو نو دهعی لپاره اول ځمکه ښه ژوره یو یا دری ځله اوبه کیږي او بیا وروسته پکی مې کرل کیږيږ البته په هعه سیمو کی چې اوبه ن لرئ مې دجواروسره شریکی همکرل کیږي چې په یو وحت کی دځمکی څخه دوه فصله احستل کیږي اوله بلی حوا دځمکی حاصل خیزی سبب کیږي

## کیمیاوي سري

په عمومی صورت سره مې نایتروجن لرونکو سرو ته ضرورت نه لري خو بیا هم په ډیره کمه اندازه نایتروجن لرونکی او فاسفورس لرونکی سرې د کرلو په وخت کی اچول کیږي چې ډیره ښه نتیجه ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مې ناروغي

د میو نباتات دری قسمه ناروغي لري چې غبارت دی له : پنگسی ، بکتریاوي او ویروسی علایم لکه د بوټو وچیدل ، د میو سپنکی د پانو د ټکی ناروغي او داسی نوري دی د دی ناروغی کنټرول لپاره باید مخکي دوا پاشي او خشرات وژونکی استغمال شي .

## د میو غذائي ارزښت

مې اکثرا په افعانستان کی یو ډول حواړه دي چې ډیر خلک د میو دانی پخوي او د ډوډی سره یوځای حوړل کیږي همدارنګه د میو دانې په وریجو کی هم اچول کیږي او بیا ځینی خلک یی د دالو په شکل پخوي . چې د میو د دالو په نامه یادیږي د میو خواړه ډیر ګټور او مفید دی ځکه چې د پروټین مقدار ۲۲ــ ۲۴ پوری لري او په ډیره اسانی سره هضمیږي په غربی او نورو هیوادونو کی زیاته ګټه ورځخه اخستل کیږي مې یوازی د انسانانو لپاره عذائی ارزښت نه لري بلکی د حیواناتو لپاره یوه عذا ده لکه د میو د پانو څخه په ژمي کی حیواناتو ته خوراکه برابرول چې حیوان ګرم ساتي . د میو پاڼې او ریښی د ځمکی د حاصل حیزی سبب کیږي . چې دی عمل ته ګرین مورننګ Green manuring هم وائي

د میو په ریښو کی یو ډول عوټی دی چې د Nudeles نوډیلس په نوم یادیږي .

چې د هوا څخه ازاد نایتروجن په ځمکه نصبوي د میو د حاصل اندازه د افعانستان په اکثرا سیمو کی 380__350 کیلو ګرام حاصل د یو جریب ځمکی څخه لاس ته راځي .

مې په اکثرا شګلینو یا لوم sandy loom خاورو کی ښه نتیجه ورکوي .

په هغو ځمکو کی چې مالګینی او جبه زاره وي مې ښه نتیجه نه ورکوي . او د کرلو سپارښتنه یی نه کوو او مې په دوه موسمونو کی کرل کیږی چې په عمومی ډول په اوړی کی کرل کیږی مګر په ځینو سیمو کی په پسرلی کی کرل کیږي په جلال اباد کی د جوزا میاشت کی کرل کیږی او په نورو ولایتونو کی د سرطان ۱ ــ ۱۵ نیټي پوری کرل کیږي

د تخم اندازه یی اصلاح شوی تخمونه ۵ــ۶kg کیلو ګرامه په یوه جریب ځمکه کی اچول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمباکو (Tobacoo)

تمباکو ډیر پخوانی نبات دی اصلی منابع یی غرب ، مکسیکو او امریکا ده په ۱۴۸۲ م کال کی په کیوبا کی کولمبوس او د هغو ملګرو لومړي ځل لپاره سګریټ جوړ او وې څکول .

د تمباکو کلیمه د هندی او امریکای کلیمو څخه جوړه شوی ده Tobago تمباکو په نوم سره یادیږي او یا دا ده چې د Tobacoo تباکو اخیستل شوې چې وروسته دا کلیمه په انګلیسی ژبه واړول شوه چې د Tobacco تمباکو په نوم سره یادیږي . دانبات په ۱۵۳۵ م کال مخکی هسپانې ته راوړل شوی وه او تجارتی نوم یی پیدا کړ په ۱۵۶۰ م کال فرانسی ته راوړل شو چې د فرانسی د سفیر نوم هم لرې jean nicote جان نیکوټ په نوم یادیده په تمباکو کی یوه فعاله ماده شته چې د nico tiane نیکو تین په نوم سره یادیږي .

د تمباکو څخ په صنعت کی سګریټ ، نصوار، سیګار او چیلم کی کار اخیستل کیږي .

## د تمباکو خصوصیات

د تمباکو علمی نوم Nicotianetabcum نیکو تین تباکوم او کورني نوم یی سولانوسیا Solanoceae دی تمباکو یو کلن نبات دی د پانی اوږدوالی د ۳۰ ـــ ۶۰ سانتی متر پوری رسیږي . او په یو نبا کی د ۸ نه تر ۲۵ پوری پانی شته . د دې نبات لوړ والی دې ۱۲۰ ـــ نه تر ۱۸۰ سانتی متره پوری رسیږي . د دې نبات په پانو کی مختلف مواد شته لکه نایتروجن ، نیکو تین ، تیزاب ، کلسیم ، مګنیزیم ، معدنی مواد او داسی نور دې ودی نبات ګل perfect incomplete پرفیکټ این کومپلیت دې د ګلانو ګرده افشانی -self pollination سیلف پالونیشن او cross pollination کراس پالونیشن دی د دې نبات یو کیلو 1kg تخم تقریبا یولس زره دانې کوي .

## کرنیزي عملي

1 د ځمکی اماده کول

2 د قورې جوړول ، قوره باید 2x3m د یو هکتار ځمکی لپاره جوړه شي بزغلی د 6 نه تر 12 هفتو پوری په قوره کی پاتی شی کله چی د بزغلی لوړوالی 15cm ته ورسیږي باید بیا پټی ته انتقال شي د دوو جیو چو ترمینځ واټن د 60 __70 cm پوری دوه بوټو تر مینځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

واټن 25cm___20cm پورى په يو هکتارځمکه کی د 45000 نه تر 90000 پورى بوټی باید وي .

## د کیمیاوي سرو استعمال

100kg یوریا 100kg D.A.P او 70kg پوتاشیم سلفاید دغه فصل د 3 نه تر 4 میاشتو په بر کی رسیږي او کله چی د دي نباتاتوپانی زیری یا نصواری شی نو وایو چی نباتات پخه شوي دي د 2 نه تر 4 ورځو پوري کله چه مونږ نباتات وریبو پانی په خپل ځای پریدو چی وچې شي .

## سایبین Sey been

سایبین د اسیا څخه سرچینه اخلي او په چین کې ۲۸۳۸ کاله مخکې c__b کرل کیده چی د سایبینو وخشی ډولونه په منجوریا او کوریا کی شته چی په چین کی د تاتوس په نوم یادیږي

سایبین د یوی جاپانی کلیمی څخه اخیستل شوی چی د شو Shoyu په نوم سره یادیږي . دا نبات په 17 پیړی کی اروپا ته او په 18 پیړی امریکا ته راوړل شو . چه نن ورځ امریکا د تولی نړی د ضرورت وړ سایبین 75% امریکا پوره کوي . زمونږ هیواد په داخل کی سایبین د څو کلونو راهیسی په تحقیقاتی فارمونو کی کرل کیږي .

سایبین مختلف عذائي مواد لري لکه پروتین 40% ، شحم 21% ، کاربوهایدرتونه 34% ، مغذنی مواد 5% لري .

## د سایبینو عمده تولیدونکی هیوادونه

غبارت دی له جابان ، چین ، امریکا ، اندونیزیا او پوانی شوري .

## نباتي خصوصیات

د سایبینو کورنی نوم ګلائنس مکس Glycinemax او د کورني نوم یی لیګومنیسیا legumeinoceae دا نبات یو کلن نبات دی او لوړ والی د 90cm نه تر 120cm پوری رسیږي . پاڼې يې مرکزي شکل لري یغنې compound کمپاونډ شکل لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل یی په مکمل ډول دی perfect incomplete پرفیکټ اینکمپلیټ او ګرده افشاني یی self-pollination سلف پالونیشن ده د ګل رنګ یی سپین دی او په هر پله کی د 2 نه تر 5 پوری تخمونه شته .

د تخم رنګ ئي زیر او نصواری دی د ریښي سیستم ئي Toproot ټاپ روټ دي او ازاد نایتروجن په ځمکه کی نصبوي . شنه کیدو څخه 8 یا12 ورځي وروسته د دې په ریښو کی بکتریاوې مینځته راځی چی دغه بکتریاوې ازاد نایتروجن په ځمکه کی نصبوي .

ښه وریتي هغه وریتي ده چي څو خوصه لري .

1. د پخیدو وخت یی کم وي .
2. د چپه کیدو سره باید مقاومت وکړي .
3. د ناروغی په مقابل کی باید مقاومت وکړي .
4. د تندۍ سره باید مقاومت وکړي .
5. د لږ ځمکی نه باید ډیر حاصل لاسته راشي .

## کرنیزې عملیې

1. ځمکه اماده شي .
2. ځمکه باید د کرلو څخه مخکې ښه اوبه شي .
3. د قطارونو ترمینځ واټن باید 60cm نه تر 90cm پوری وي . د دوه بوټو تر مینځ واټن د 20cm نه تر 25cm پوری باید وي . تخم باید 5cm ژور وکرل شي . په یو هکتار ځمکه کی باید د 45kg نه تر 65kg پوری تخم واچول شي .

## د کیمیاوي سرواستعمال

د 14kg نه تر 7kg نایتروجنی سرې باید واچول شي او د 34kg نه تر 45kg پورې پوتاشیم سلفاید سرې واچول شي.

ګنی sugarcane شوګرکن

ګنی د پیداینت له نظره په هندوستان کی پیداشوي او بیا چین ته راوړل شوی دی. چی 760 کاله مخکې د میلاد څخه د ګنی څخه شکره لاسته راغلې ده .

## د ګنی اقتصادي اهمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنی د نړۍ د شکرې یوه عمده برخه تهیه کوي د ګنی تولیدونکی هیوادونه عبارت دی له هند ، امریکا ، برازیل ، فیلپین ، اسرائیل ، جنوبی افریقا او داسی نور هیوادونه .
په ننګرهار او لغمان کی د ګنی وریتی ګانی کرل کیږي د ننګرهار قند فابریکی لپاره خام مواد 65% د دولتي فارمونو څخه راوړل کیده او 38% د محلی بزګرانو څخه لاسته راوړل .

## د ګنی نباتي خصوصیات

ګنی څو کلن نبات دي د ګنی علمی نوم Sakurum سکروم او کورنی نوم یې Graminceae ګرامنسیا دي . د ګنی اکثرا وریتی Hybride هایبرید دي د ګنی کروموزمونو شمیر 48 نه تر 150 پورې رسیږي .
د ګنی لوړ والی د 2 نه تر 6m مترو پورې رسیږي په ګنی کی د 5 نه تر 50 پورې بندونه شته دي او قطر یی 2.5 نه تر 7.5 پورې رسیږي . د پاڼو اوږدوالی یی تقریبا 2m ته رسیږي . د ګل سیستم یی Panicle پینکل دی او د ګل لوړ والی یی د 20cm نه تر 60cm پورې رسیږي او هر ګل د دوه متخویله پاڼو په واسطه احاطه شویدي .

## د ګنی ځیني ډولونه د وخت په اړه

Larly Sugarcane ایرلی شوګرکان په 8 میاشتو کی پخیږي .
Medium Sugarcane میډیم شوګرکان په 12 میاشتو پخیږي .
Late Sugarcane لایټ شوګرکان په 24 میاشتو کی پخیږي .
ګنی ګرم موسم خوښوي د 27 نه تر 38c° درجو کی وده کوي په ګنی د هرزه بوټو کنترول د ځینو کیمیاوی درملو په واسطه لکه T.C.P. ،2.4.D ،2.4.S.P او د بیورون Biuron څخه غبارت دي .ګنی تقریبا په اوسط ډول 17 ځلې اوبه څکي .

## په ګنی کی ځیني ناروغی

یوه ناروغی Brownspot براون سپوټ نسواری ناروغۍ ده دا ناروغی په لغمان او ننګرهار سیمو کی زیاته ده . Red Root د ګنی ریښو کی چه ریښی سرې کیږي Smut سمټ دا ناروغی په ساقه کی او پاڼه کی جه سور رنګ داغونه غوره کوی او باالخیره نبات له مینځه ځي .

## د ګنی لپاره د خاوي انتخاب

Sandyloam ساندی لوم او Clayloam کلي لوم دغه خاورې د ګنی لپاره مناسبې دي .

## د ګنی کرنیزي عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. د ځمکې اماده کول غضوي سرې اچول .
2. کیمیاوي سرو اچول .

د هیواد په شرایطو کی د دوه قطارونو تر مینځ واټن 90cm نه تر 120cm پورې او د دوه نباتاتو ترمینځ واټن د 20cm نه تر 30cm پورې وي .
او د گنی لښتي باید د 5 نه تر 20cm پورې ژورې وکرل شي .
او د لختو اوږدوالی باید د 30 نه تر 40cm پورې وي .
په ننگرهار کی د حوت د 15 د حمل تر 15 پورې د گنیو د کرلو وخت وي .

## په گنی کی د کیمیاوي سرو استعمال

Urea/H 175-DAP/H 175kg ، $140k_2$ So4/H پوتاشیم سلفاید سرې باید واچول شي .

## چغندر Sugar Beet شوگر بیت

چغندر د تقریبا 1000 کاله مخکې د میلاد د مخه هم کرل کیده او اصلی ځای مدیترانه بنودل شوي دي او په 1747 م کال د یو الماني عالم وویل چې کوم مواد چې په گنی شته په چغندر کی هم شته دی د چغندر ځخه د شکره ویستلو فابریکه په 1802 م کال کی په مرکزي اروپا کی جوړه شوه .
په چغندرو کی د قند فیصدي د 7.5 ځخه تر 17% پورې یو فرانسوي عالم زیاته کړه چې باالخیره دغه فیصدي د گنی سره په 1880 م کال کی برابره شوه په 1319 ه کال کی په افغانستان په بغلان په ولایت کی د قند یوه فابریکه جوړه شوه .
چغندر درې برخې لري
1. Crawn کرونا (پاڼې)
2. Neek نیک (غاړه )
3. Root روټ (ریښه )

1 د چغندرو پاڼې د Silage سلیج په شکل د حیواناتو لپاره ورځخه کار اخیستل کیږي .
2 Mousees موسیسز : عبارت د شکرې د استعمال د عملي ځخه لاسته راځې او مغذی مرکبات زیات لري نو له همدې کبله قوي او ښه غذا ده چې د حیواناتو لپاره په دې کی 20% اوبه ، 60% قندونه ، 10% منرالونه موجود دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

3 Beet Pulp بیټ پولپ: دا هغه مواد دی چه وروسته د شکري د استخصال څخه لاسته راځي .
4 د چغندرو کنجاړه : دا د چغندرو د رسوب او فلتر کولو عملی نه وروسته پاتی مواد دی او په دي کی نایتروجن ، فاسفورس او پوتاشیم موجود دي  او د خاورې حاصل خیزي او د اصلاح لپاره په کار وړل کیږي.

د چغندرو تولیدونکی هیوادونه

غبارت دی له امریکا ، فرانسه ، المان ، پولیند ، ایتالیه ، انګلستان ، هند او داسی نور .

## د چغندرو نباتی خصوصیات

د چغندرو علمي  نوم بیټاویل ګراس Beta Valgaris او د کورنی نوم یی چینوپوډسیا Chenopodiaceae چغندر علفي او دوه مشیمه نبات دی چی ګلان ئې perfect فرفیکټ دی ولې Carola کروله نلري نو د دي امله incomplete انکمپلیټ دي.

د کلیکس شمیر ئې  5 ته رسیږي او 5% تانیت او 5% د تزکیر الي لري .

ویلګاریس سپیشز  Valgaris species په څلورو ګروپونو ویشل شوي دي .

1. شوګربیټ Sugar beet
2. ګادرن بیټ Garden beet
3. منګل Mengels Beet
4. لیف بیټ Leaf Beet

چغندر یو کلن او هم دوه کلن نبات دی کله چی چغندر د تخم په حاطر کرو 6 هفتی وروسته د ګل ساقی مینځته راځي . او ګلان تشکیلوي چی ګلان اګری ګیټ Aggregate شکل عوره کوي . چی تخم ئې سيډ بال Seed Ball په نوم سره یادیږي . او په هر پلی کی د 2 نه تر 5 پورې تخم او دانی موجودی وي .

کله چې د قند په حاطر یی کرو نو چغندر یو کلن نبات دی او ګرده افشانی د باد او باران په واسطه ترسره کیږي .

## د چغندرو وریټي ګاني

a. ښه وریټي هغه وریټي ده چې د ناروغی په مقابل کی مقاومت وکړي .
b. ښه وریټي هغه وریټي ده چې د حاصل اندازه یی زیاته وي .
c. ښه وریټي هغه وریټي ده چې په لومړی کال کی د ګل حاصیت ونه لري .
d. ښه وریټي هغه وریټي ده چې په سیمه کی باید ښه توافق وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

e. ښه وریتي هغه وریتي ده چې د قندي موادو فیصدي یې زیاته وي .

## د چغندرو توافق

ځینې عوامل باید په نظر کی ونیسو د وریتي په انکشاف او د قند په تجمع کې اعیزمند وي .

1. د خاورې حاصل حیزې حاوره باید حاصل خیزه وي عضوي مواد ور کې زیات وي .
2. خاوره باید سایندي لوم وي Sandy loam وي .
3. چغندر د تود موسم نبات دي او د تیع وهلو لپاره $15C^o$ حرارت ته ضرورت لري .
4. د لمر وړانګې په چغندرو کیفت او کمیت باندې اغیزه کوي .
5. طبغتا چغندر ډیرو اوبو ته ضرورت لري خو د هغو سیمو اورښت اندازه باید 45cm وي ځکه چې زیاتو اوبو ته ضرورت لرې .

## د چغندرو کرنیزې عملیې

1. د ځمکې خاصل خیزه باید زیاته وي .
2. د خاورې ساختمان باید اصلاح شي .
3. هرزه بوټې باید کنترول شي.
4. د ناروغې او خشراتو مخنیوي باید وشي .
5. ځمکې اماده کول .
6. د کرلو وخت او طریقې .

وخت ئې د حوت د 15 نه تر حمل 15 پورې دی د تخم شنه کیدو لپاره $7_6c^o$ درجو خرارته ضرورت دی . زمونږ په هیواد کې 20kg Seed/h اچول کیږي .
تخم باید کرلو ځخه 24 مخکې په اوبو کی واچول شي . 4 دانی تخم باید په یو ځای کی واچول شي . د دوه بوټو تر مینځ واټن باید 20cm وي . د دوو قطارونو تر مینځ واټن باید 60cm وي .

## په چغندرو کې کیمیاوي سرو استغمال

- 175kg DAP/H
- 175kg Urea/H
- 140kg k2so4/H

## په چغندرو کی د هرزه بوټو کنترول

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. کله چې چغندر شنه شي د هغې د شنه کيدو څخه وروسته لومړي خشاوه ترسره کيږي .
2. دوهمه خشاوه د لومړی څخه 15 ورځې وروسته ترسره کيږی .
3. او دریمه د دوهمې څخه 20 ورځې وروسته ترسره کيږي .

په چغندرو کې د کيمياوي درملو استعمال طريقې

مخکې د کرلو نه د کيمياوي درمل استعمال د پری پلانټ هار بساید pery plantin Herbicide P.P.H پری پلانتين هاربيسيد چه دغه درملونه غبارت دي ډايوډ Diuade فيريزون pyrazon دا هغه دي درملونه دی چی وروسته د کرلو نه استغماليږي .

پري ايمرجنس هربيسايډ pery emergence herbicide چه دغه درملونه غبارت لکه T.C.A او پسټ ايمرجنس هربيسايډ past emergence herbicide چه دغه درملونه غبارت دی لکه Bar ban .

## د چغندرو حاصل راټولول

1. کله چی چغندر ورسیده Crown یا پاڼي برخه ورڅخه پری کوو او څو ورځې په ځمکې کی پریږدو .
2. چغندر د ځمکی څخه راوباسو او فابریکی ته یی وړو .
3. د مخصوصو ماشين الاتو په واسطه د چغندر پريمنځ کيږي .
4. د مخصوصو ماشين الاتو په واسطه ور څخه شکره لاسته راځي .

## کچالو Potato

کچالو د پيدايښت له پلوه په جنوبی امریکا کی پيدا شوي چه هغه هيوادونه غبارت دی له پوليد ، چلي ، پيرو او داسی نور. په 1537 کال کی هسپانيه ته راوړل شو په مکسيکو د 40 څخه زيات کچالو موندل کيږي . افغانستان ته د امير عبدالرخمن خان په وخت کی راوړل شوي ده .

## د کچالو اقتصادي اهميت

دا نبات د عذائي موادو له نظره د 65 څخه تر 80% پورې نشايسته لري .
پروتين V.C او $V.B_1$ او $V.B_2$ هم لري .
د کچالو نباتي حصوصيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کچالو کورنی نوم سولانوسیا Solanceae سولانوم او علمي نوم یې سولانوم تیوبروسوم Solanum Tuberosum دي . دا نبات یو کلن دی او ځانګي یې د 30 نه تر 60cm پورې لوړیږي .

د ګلانو سیستم ئې perfect and complete پرفیکټ اینکمپلیټ دی د تانیث الې 5 دی او د تذکیر الې هم 5 دی .

د کچالو عده د Tuber تیوبر په نامه یادیږي . د ځمکې لاندې متحوله ساقه ده .

## د کچالو توافق

کچالو د سوړ موسم نبات دی او د خاورې تودوخه ئې باید $24C^o$ وي او د خاورې ډول ئې باید لوم loam یا سنډی لوم sandy loam وي زموږ په هیواد کی تقریبا د 50 ځخه زیاتی وریټي ګاني موجودې دي .

موخي Mukhi ، چندر chander ، کوفري Kufri ، کوفری لوکر kufri lovkar دی .

او تر ټولو ښه وریټي چندر موحی chander mukhi ده چې تقریباً د 45-30 tan/h حاصل کوي .

## د کچالو د حاصل زیاتوالی عوامل

1. د اصلاح شوی وریټي ګانو استعمال .
2. د کرلو ښه طریقه په کار وړل .
3. د اوبو ځخه په ښه طریقه استعفاده کول .
4. د کافي مقدار سرې استعمال .
5. د امراضو او حشراتو ځخه مخنیوي کول .

د کچالو کرنیزې عملې

د ځمکې اماده کول : ځمکه باید شګلنه یا لوم یا سنډی لوم وي او د قطارونو تر مینځ واټن یې باید 90 ځخه تر 100cm پورې وي . او د نباتاتو تر مینځ واټن باید 20 تر 30cm پورې وي . د جیوچو تر مینځ فاصله د 5 نه تر 20cm پورې ، او د ځمکې درجه یې د $12C^o$ وي او د حاصل موده یې د 3 نه تر 4 میاشتو په بر کی نیسي .

## د کچالو تخم انتخاب

a. د کرلو وړ کچالو باید د 50 نه تر 60gr وزن ولري .
b. د امراضو حشراتو ځخه باید پاک وي او هر کله چه مونږ کچالو پرې کوو باید د سرسین seresan 500gr کیمیاوي درمل ور سره یوځای کوو .
c. کرل کیدونکی کچالو باید ټوټه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

d. په یو هکتار ځمکه باید 875kg کچالو وکرل شي .

د کیمیاوي سرو استعمال

175kg / h d-a-p ، 175kg / $k_2{}^{s}{}_{d}4$ ، او 220kg Urea /h واچول شي .

او د یو هکتار ځمکې څخه د کچالو اندازه 30 نه تر 60tan/h ده .

## ابیاري :

هغه ځمکه چې کچالو پکې کرل کیږي باید د 50 نه تر 60% پورې اوبه ولري . او هر 12 ورځو کې باید کچالو اوبه شي .

د کچالو د راټولو او ذخیره کولو لارې چارې

مخکې د کچالو د رایستلو څخه 15 ورځې وړاندې باید د کچالو ساقې غوڅې شي چې ګڼې په لاندې ډول دي .

a. د کچالو پخیدنه په چټکه کیږي .

b. د غیرې عادی خالت څخه راژغورل کیږي .

c. د کچالو پوټکې غتیږي .

d. د ناروغې مخنیوی کوي .

که چیرې کچالو د ډیر وخت لپاره ذخیره کول غواړو . لاندې کیمیاوي درملونه باید وربانډی ووهو .

C,I,P,I او 2,4,S,I,P

په کچالو کې د عذائي موادو فیصدي

اوبه 79% ، منرالونه 1% ، شحم $\frac{1}{2}$% ، پروتین 2% ، کاربوهادیدراتونه 4% او همدارنګه لاندې ویټامینونه لري .

V.B$_2$ , V.B$_1$ , V.C , V.D

## جوار Coran

جوار د پیدایښت له نظره په جنوبی امریکا کې مینځته راغلی دي .

چه هغه هیوادونه عبارت دی له : پیرو ، چیلي ، او پولیو څخه د کرلو د تاریخ له مخې جوار د نړی په مختلفو هیوادونو کې لکه : اروپا ، افریقا او داسی نور هیوادونه کې مینډل کیږي .

په 1492 م کال کې د امریکا کاشیفانو یو ګروپ دغې سیمې ته ور داخل شو چې وروسته جوار د یو کرنیز نبات په توګه ونومول شو . د دې ګروپ مشر کرستف کولمب نومیده چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابوټی بیا د مایز mais په نوم سره یاد کړ هغه وریټي ګانې چې زموږ په هیواد کی موجودی دی او د نورو هیوادونو څخه لکه : پاکستان څخه راوړل شوی دی او زموږ د هیواد په ځینو سیمو کی توافق حاصل کړی هغه وریټي ګانې عبارت دي له :

1. شاهین sahen

دا وریټي په 1984 م کال دغه وریټي مینځ ته راغلی ده دغه وریټی نوره پخیدونکی ده او سپین رنګ لري . او د ننګرهار په ځینو لوړو او جیګو منطقو کې ئې توافق حاصل کړي دی . او د حاصل مینځینی اندازه ئې 400kg/h ده .

2. اغظم Azam

دا وریټي په 1983 م کال کی مینځته راغلی ده او د دې وریټی رنګ سپین دي مینځینی لوړوالی لري چې په هغو ساحو کی کرل کیږي ور کی اوبه کمې وي او د حاصل اندازه 5500kg/h ده .

3. کسان kissan

دا وریټي په 1990 م کال کی مینځته راغلي ده د دې وریټی لوړ والی مینځینی دی او اوسط موده کی خپل نمود سرته رسوي دغه وریټي په هغو سیمو کی توافق حاصل کړي کوم ځای کی چې زیاتی اوبه وي د حاصل اندازه ئې 6000kg/h ده .

4. د سرحد sarhad سپین جوار

دا وریټي د زیړو جوارو سره کراس شوی ده چې په 1996 م کال کی مینځته راغلی ده او په 110 ورځو کی پخیږي . د حاصل اندازه یی 5500kg/h ده .

5. احسان Ahssan سپین جوار

دا وریټی د سرخد سپنو جوارو سره کراس شوی ده او تقریباً په 100 ورځو کی پخیږي . دغه جوار خوارہ جوار دي د حاصل اندازه ئې تقریباً 7000kg/h ده .

6. سرحد زیړ جوار sarhad

دا جوار تقریباً په 100 ورځو کی پخیږي . او په 1971 م کال کی مینځته راغلی دی د دې جوارو دانی اوږدی دی او دغه جوار د قتار په شکل کرل کیږي قد ئې 2m نه تر 5m ته رسیږي .د ده حاصل اندازه د 8000-7000kg/h ده .

په نړی د جوارو تولیدونکی هیوادونه

په نړی کی د جوارو تولیدونکی هیوادونه عبارت دی له : امریکا ، چین ؤ هند ، ارجنټاین ، برازیل ، کولمبیا ، فرانسه ، جنوبي افریقا او داسی نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جوارو نباتي خصوصيات

کورنۍ نوم ئي ګرامینسیا Graminecea ، او علمی نوم ئي میدیکا maydcae  دي د جوارو بندونو تر مینځ واټن د6 نه تر 20cm فرق لري . او د ساقې لوړ والی د 2 نه تر 5cm پورې وي او په ځینو حالاتو کی د 8 پوري هم رسیږي . د ساقې پنډ والی یا زحامت ئي 3cm ته رسیږي او پانی بلید blade په نوم یادیږي  او د پانو اوږود والی یی د 30 نه تر  80cm پوری رسیږي . او د پانو شمیر ئي   12 نه تر 18 پوری رسیږي . کله چې پاڼې راتاوې  شي  د تبخیر ځخه مخنیوي کوي . د جوارو لومړني ریښو شمیر د 3 نه تر 5 پوري رسیږي . او د ثانوي ریښو شمیر یی د 15 نه تر 20  پوري رسیږي .

## ګل سیستم ئي

نارینه ګلان د نبات په پورته برخه کی او ښځینه ګلان د نبات په ښکته برخه کی موجود وی نارینه اله ئي د سلیک salk او ښځینه اله ئي ایر ear په نامه یادیږي .
او ګرده افشانی ئي یی کراس پولینیشن cross pollination دي .

## د جوارو توافق

جوار په عمومی ډول سره د بخر له سطخی ځخه 3000m پورته توافق حاصل کړي دی . د جوارو شنه کیدلو لپاره 20 نه تر $30C^{o}$ خرارت ته ضرورت دي .
د جوارو د عذائي موادو استعمال او د کرلو ساحې
په پدې وروستی کلونو کی د جوارو ساحې او مصرفونه زیات شوي دی چې په موجوده وخت کی تقریباً په 40 هکتاره ځمکه باندی کرل کیږي . چه د دې ځخه د حاصل اندازه 468m.ton میلیونه ټنه ده .

## د جوارو اېباري

دا چه جوار یو کلن نبات دی نو د خپلې ودې لپاره زیاتو اوبو ته اړتیا لري . که چیرې د ګل په وخت کی جوار دوه ورځی تنده وکړي 22% حاصل ئي کمیږي .
جوارو ته اوبه ورکول د شنه کیدو ځخه 10 ورځی  وروسته دوهمه اوبه د ساقې په وخت کی ورکول کیږي . دریمه اوبه د شتې یا توقه یا ear په وخت کی ورکول کیږي .
څلورمه اوبه د ګل په وخت کی او پنځمه اوبه د شیرې په وخت کی یا دانی په وخت کی شپږمه اوبه د پخیدو په وخت کی او نور هره لسمه ورځ جوارو ته اوبه ورکول کیږي .
د جوارو حاصل راټولول وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چې جوار پخه شو او د دانې رطوبت یې د 16% نه تر 30% پورې وي نو جوار پرې کوو یا ریبوو . تر څو پورې څو ورځې جوار په پټي کې پرېږدو . او وروسته جوار سپینوو او او بله اخیره تریشل کیږي .

## پمبه Cotton

پمبه د پیدایښت له نظره ډیر پخوانی نبات دي چې 3500,B.C په مکسیکو کې موجوده وه په لاتیني ژبه کې ورته کاربس Carbasus وائي .

د پمبې کرنیزې عملې

1. د ځمکې اماده کول
2. د تخم انتخاب

تخم باید د امراضو څخه پاک وی او کله چې تخم کرو نو د کرلو څخه مخکې باید د 48 ساعتونو لپاره په اوبو کې واچول شي .

او بیا وروسته کیمیاوی درمل sarasan نومیږي تخم 1kgr سره 10kgr یو ځای شي د دوه قطارونو تر مینځ واټن یې باید 60 نه تر 80cm پورې وي .

او د دوه بوټو ترمینځ واټن باید د 20 نه تر 30cm پورې وی . تخم باید 5cm ژور وکرل شي او 50-30kgseed/h اچول کیږي .

پمبې ته د اوبو ورکولو وختونه

په تودو سیمو کې پمبې ته هر 15 ورځو کې اوبه ورکول کیږي . او کله چې اوبه د کرلو نه وروسته ورکړل شي نو د پمبې ارتفاع باید 20cm ته ورسیږي نو خشاور ورکوو .

## د پمبې اقتصادي ارزښت

پمبه د نړۍ پر مخ 56% الیاف تولیدوي . او 27% تیل تولیدوي او 40% پروتین لري چې د حیواناتو په ژوند کې ډیر غټ ارزښت لري .

د پمبه تولیدونکی هیوادونه

غبارت دی له شوري ، مکسیکو ، چین ، هند.افغانستان ،برازیل ، ترکیه سوډان ، مصر ، پاکستان ،

د هیواد په داخل کې د پمبې خوزې

1. بغلان ، کندز او تخار
2. سمنګان ، بلخ ، جوزجان او فاریاب
3. هرات او بادغیس
4. فرا ، هلمند ، ننګرهار او کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پمبې نباتي خصوصيات

د پمبې کورنۍ نوم مالوسيا Malvacee او علمي نوم ئې ګوسوپويم Gossypuim دي .
پنمبه په کرنيز حالت کې يو کلن نبات دي او کله څو کلن هم کيدلای شي . پمبه د خپلې ودې لپاره 25 څخه 40% پورې وده کوي .
او د ريښو سيستم ئې ټاپ روټ Top Root دي د پمبې ارتفاع د 60 څخه تر 150cm پورې رسيږي .

## د پمبې پاڼه او ګل

د پمبې پاڼه د پټيول petivl په ساخه کې له قاغدې سره وصل ده .
دوه زخې لري يو ئې اصلي زخه او بله ئې جانبې زخه ده د اصلي زخي څخه عير ګلې ساخه يا ښانګې مينځ ته راځي او د جانبې ذخي څخه ئې ګل او ميوه لرونکي ښانګې مينځ ته راځي .

## د پمبې د ګل اضعاوي

1. کاليکس calyx
2. کورولا corola : کورولا د ګل د پاڼو څخه عبارت ده چې شمير يې 5 ته رسيږي .
3. سټمينټ stamenate : د ګل د تذکير د ساختمانونو څخه عبارت دی چې شمير ئې 90 نه تر 100 پورې رسيږي .
4. پيسټليټ pistillate : په دړې برخو ويشل شوي او د ګل د تانيت ساختمان څخه عبارت دی .
   1. سټايل style
   2. سټيګما stigma
   3. اوري ovary

## غنم wheat

غنم يو کرنيز نبات دی چې د نړۍ په مختلفو برخو کې کرل کيږي چې محصولات يې د انسانانو د عذا لپاره استعماليږي . يو کرنيز نبات چې مخکې وځشې وه .
او وروسته بيا د انسانانو په واسطه اصلاح شو په نړۍ کې د غنمو ټول توليد تقريباً 75% د ډوډۍ په خاطر مصرفيږي 15% د خپلو مصارفو او 10% بيرته د تخم لپاره مصرفيږي .
په نړۍ کې د غنمو توليدونکي هيوادونه
لاندې څو هيوادونه برازيل ، پيرو ، چيلي ، افعانستان ، ايران ، بنګله ديش ، ترکيه ، چين ، جاپان سوريه ، شوروي ، هند او داسې نور هيوادونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نړۍ کې د غنمو صادرونکي هیوادونه
امریکا ، کاناډا ، استرالیا او ارجنتاین څخه عبارت دي .

## د غنمو تاریخچه

غنم د ډیرو پخوانیو زمانو څخه را په دیخوا کرل کیږي چې د انسانانو ، حیواناتو او مرغانو د عذا په توګه استعمالیده . او تقریباً 12 زره کاله مخکې په مینځنیی ختیځ کې کرل کیده . او هیڅوک نه پوهیږي چې غنم کله او د چا له خوا کشف شوی دي .
او زموږ غقیده دا ده چې لومړی د ادم (ع) له پیژندل شوي لومړی غنم د یمر emmer په نوم یادیده او د ساینس پوهانو اصلی ځای مرکز دی سوریه او فلسطین ښوری .چه بیا وروسته دغو سیمو څخه بین النهرین او مصر ته راوړل شوی او بیا ایران ، افغانستان ، پاکستان او بله اخیره ټولې نړۍ ته انتقال شوی دي .

## د غنمو اقتصادي اهمیت

غنم د هغو نباتاتو له جملې څخه دی چې په نړۍ په پراخه پیمانه پیدا کیږي .
او ختا په وچو ځایونو کې هو کرل کیږي . په نړۍ کې د غنمو اقتصادي اهمیت د تولید له نظره او هم د تغذیه له نظره د نورو کرنیزو محصولاتو په پر تله خورا زیات دي .
لومړي عذا د انسانانو لپاره تهیه کیږي دوهمه د خیواناتو لپاره او دریمه د مرعانو لپاره تهیه کیږي . او په صنعت کې ور څخه کار اخیستل کیږي .

## د غنمو غذائي ارزښت

په نړۍ کې غنم د ډیرو پخوا زمانو او د ډیرو مصرفونکي کرنیزو نباتاتو له جملي څخه دي چه علتونه ئې په لاندې ډول دي .

1. د نورو غذائي موادو لړوالی یا نشتوالی .
2. د حمل او نقل اسانتیاوي .
3. د غنمو کرلو امکان د نړۍ په زیاتو برخو کې موجود دي .
4. په هره سیمه کې په ډیره اسانتیا سره د هغه څخه ډوډی او نور مروج خواړه تهیه کیدای شي .
5. د اوبو د کموالي په صورت کې هم کرل کیدای شي .
6. په اسانی سره کولای شو چې غنم د اوږدي مودې لپاره ستور کړو .
7. د مصرف په هره مرحله کې کیدای شي د ضرورت وړ مقدار ځینې راتول او مصرف شي .

## د غنمو کرنیزي عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. د تخم لپاره د ځمکې اماده کول .
2. د غنمو تخم باید د 2 نه تر 3 اینچو پورې ژور وکرل شي .غنم په دوه طریقو سره کرل کیږي . 1 د پاشان طریقه 2 د قطار طریقه ده .
3. د غنمو د کرلو وخت د غنمو په حاصل باندې زیاته اغیزې کوي .
4. د تخم کرلو اندازه په داخل د هیواد کی په یو جریب ځمکه کی 21kgr نه تر 35kgr پوري تخم اچول کیږي .
5. په غنمو کی د کیمیاوي سرو استعمال د تخم په اندازه یعنې - 35kgr urea/h . 35kgr DAP/H

## د یو شمیر سبزیجاتو پیژندنه

دا چې افغانستان یو داسی هیواد دی چې تقریباً 85% وګړي په کرنه او مالداری بوخت دی خو د دې سره سره بیا هم موږ سبزیجات او علجات د نورو هیوادونو څخه واریدو د دې اساسی علت دا ده چې هغه کرنیز ماشین الات او پرمختللي ټیکنالوجي چې په نورو هیوادونو کې ور څخه کار اخلي زموږ د بزګرانو په واک نه شته او هغه اصلاح شوی تخمونه او کیمیاوي سرې چې په نورو هیوادونو کې ور څخه کار اخیستل کیږي . زموږ دولتی تحقیقاتی فارمونه او عام بزګران ور څخه بې برخي ده لکه څنګه چې د زراعت تعریف څخه معلومیږي . چې هر هغه شی چې د حاصل د زیاتوالی سبب وګرځي د د زراعت په نوم سره یادیږي . هغه فکتورونه چې زموږ په واک کې نشته او که چیرې په دولت فارمونو کې وي خو مسلکي کسان نشته او که چیرې پیدا هم شي د خپل مسلک څخه به دومره لرې وي که پوښتنه ور څخه وکړي نو ځواب به در کړي چې دا موږ ډیر پخوا ویلی وه او اوس په خپل مسلک کی کار نه کوم دا چې زمږ هیواد یو زراعتی او کرنیز هیواد دي چې زیات سبزیجات ورکې کرل کیږي . چې یو څه یې تاسی ته معرفی کوو . دا هغه نباتات دی چې د پاڼو څخه په اومه او پاخه ډول استفاده کیږي .

## پالک Spinach

علمی نوم ئې spinaci cleracea سپینسی کلروسیا دی او کورنی نوم ئې cheno podaceae چینو پوډ یسا پالک د (A.B.C) ویټامینونو درلودونکی دی خاورې p-h 8-6 وي د تخم شنه کیدل ئې $16C^{o}$ سانتی ګراډ درجو ته ضرورت شته . د پالکو اصلی ځای د اسیا جنوب او د افریقا شمال دی د پالکو حاصل د 45-50 ورځو نه تیر شي نو حاصل ئې راتولیکی خو ځلې حاصل راټولیکی په یو جریب ځمکه کی د تخم اندازه د 5 نه تر 6kg پوری ده په سرو سیمو کی پالک په دوه وختونو کی کرل کیږي یو د سپرلی په لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشت کی او بل د زمری په میاشت کی کی کرل کیږي . د کیمیاوي سرو اندازه یی په یو جریب کی 50kg urea یوریا ، 25 kg D.A.P استعمالیږي . او عضوي سرې هم استعمالولی شو په یو جریب ځمکه کې د حاصلاتو اندازه تقریباً 2000kg ده .

## کاهو lettule

کاهو ډیر پخوانی نبات دی چی اصلی ځای مصر بنودل شوي . د کاهو نباتی حصوصیات : د کاهو علمی نوم laettuca sative لاتوکا ساتیو کورنی نوم ئې composite کمپوسټیا دي کاهو د یو شمیر ویټامینونو درلودونکی دی لکه B.C دی د خاوري ډول ئې P-H 6-8 ده کاهو د قطار په 8 شکل کرل کیږي او د قطارونو تر مینځ واټن یی باید 35-30cm یوری وي د بوټو ترمینځ واټن 20-15cm یوری وي . او په مسقیم ډول یی هم کرلی شو کاهو د 13-15 سانتی ګراډ درجو ته ضرورت لري . په سړو سیمو کی پسرلی او هم د منی په موسم کی کرل کیږي .

په یو جریب ځمکه کی د 450-500 ګرامه پوری تخم اچول کیږي د کیمیاوي سرې استعمال 60kg DAP/H او urea 50kg یوریا او عضوی سرې هم باید ورکړل شي . د یو هکتار ځمکی څخه کاهو د حاصل اندازه تقریباً 4000-3000 کیلو ګرامه پوری رسیږي

## شلغم Turinp

انسانانو د ډیری مودی راپدی خوا شلغم د خپل لګښت لپاره کرل .
او د 4000 کلونو راهیسی ور څخه ګټه اخیستل کیږي . د پیداینت مرکز یی افغانستان بنودل شوي . تیپیر یو کلن او دوه کلن نبات دی چی علمی نوم یی Brassica Rapa براسیکا رپا دي او کورنی نوم ئې Cruciferae کریوسفریا دی .
شلغم ډیر عذائي ارزښت لري لکه پروتین ، شحم ، منرالونه ، کاربو هایدریټونه لري . شلغم په دوه طریقو سره کرل کیږي اول پاشان طریقه او دوهمه د قطار طریقه . د لیکو تر مینځ واټن باید 40-20 سانتی متره او د بوټو تر مینځ فاصله باید 4-6 سانتی متره وي په ګرمو سیمو کی د میزان په میاشت کی کرل کیږي او هم ویټامین لری له A.B ویټامین دی په یو جریب ځمکه کی د تخم اندازه 1kg/j یو کیلو ګرام ده . او 30kg /j یوریا ، 30kg DAP/J او همدا رنګه باید حیوانی سرې هم ورکړو د حاصل اندازه یی تقریبا3000kg نه تر 7000kg پوری رسیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرى ملى Small Radish

ملى سرخک د هغو بوټو او سبو څخه عبارت دى چى کرنه يى دومره ستونزى نه لري . د 4 نه تر 5 هفتو کى حاصل ورکوي .ئې Raphanus Sativus رپانيوز ساټيويز دى دى او کورنى نوم Crufiferea کروفيفوريا دى د پيدايښت اصلى ځاى اسيا او اروپا دي يو کلن او دوه کلن نبات دى او په ملى سرخک کى ځينې ويټامينونه شته لکه : $B_2$-$B_1$ پروټين ، شحم او کاربوهايدريتونه ، اوسپنه ، کليسم او داسې نور شته 16 درجو سانتى ګراډ ته ضرورت لري د قطارونو تر مينځ واټن يى 10 نه تر 15cm او د بوټو تر مينځ واټن يى 3 نه تر 4cm وي د تخم 2kg په يو جريب ځمکه کى اچول کيږي . کيمياوي سرې 22kg Urea/j ، 25kg DAP/J او د حاصل اندازه د يو جريب څخه 1000kg پورى رسيږي .

## پياز Onion

پياز د هغو سابو له ډلى څخه دى چى د Bulb بلب په شکل وده کوي دوى د سرى هوا په مقابل کى مقاومت کوي پياز داسې يو نبات دى چى هم په حام ډول او هم په پاخه ډول خوړل کيږى . د پيازو علمى نوم Alluim cepa اليوم سيپا او د کورنى نوم يى liuaceae ليسواسيا دى.
زمونږ په هيواد کى دوه ډوله پياز موجود دى يو نوش پياز او بل ګنده پياز دى . پياز د سانتى ګراډ 13 نه تر 25 پورى ضرورت لري د پيازو تخم د ژمى په لومړى مياشت کى کرل کيږي او بيا اصلى ځاى ته په حوت مياشت کى وړل کيږي . په پيازو کى b او c ويټامينونه شته ، پروټين ، شحم ، کليسم ، کاربوهايدريتونه او نور مواد هم شامل دي . د کيمياوي سرو استعمال 61kg urea يوريا ، D.A.P 120kg او هم حيوانى سرې ور کى استعمالولى شو . د حاصلاتو اندازه د نوش پيازو 7000kg/j د يو جريب څخه د ګنده پيازو 3000kg/j څخه دى .

## ګاذري carrots

ګاذري يو داسى نبات دى چى د ډيرى پخوا زمانى راهيسى په اروپا او اسيا کى کرل کيږي ګاذري زيات غذائي مواد لري لکه : اوسپنه ، کليسم ، فاسفورس او ځينى ويټامينونه لکه : E . B . C. $B_2$ شامل دى په افغانستان کى دوه قسمه ګاذري کرل کيږي .

A.رنګينى سرى ګاذري Anthoegan

B.زير مغزى ګاذرى Anthoeyan

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کیمیاوي سرو استعمال د 40 نه تر 45kg پورې یوریا Urea ، او د 30 نه تر 35kg DAP او 30 نه تر 45kg پورې $K_2SO_4$ په یو هکتار ځمکه کې اچول کیږي .
ګاذرې د پاشان او هم د قطار په شکل کرل کیږي .
د قطارونو تر مینځ واټن یې 35 نه تر 40cm او د بوټو ترمینځ واټن باید 8 نه تر 10cm پورې وي .
په یو هکتار ځمکه کې د 5 نه تر 6kg پورې تخم اچول کیږي او تخم باید د 4cm ژور وکرل شي . د ګاژو لپاره د حرارت درجه د 16 نه تر 22 سانتی ګراډ پورې ده .
او د یو هکتار څخه د حاصل اندازه 6000 نه تر 8000kg پورې ده .

## لیرو یا پیندی okra

د لیړو علمی نوم Hibisucs Eseulentus هیبوشس اسکلنتس او کورنۍ نوم یې Malvaceae مالوسیا دی پیندی یوه داسی سبزی ده چې په تودو او نیمه تودو سیمو کې کرل کیږي په پیندي کی زیات ویټامینونه او پروتین شامل دی .
د بیندیو د تخم شنه کیدو لپاره 20 سانتی ګراډ ته ضرورت دي په تودو سیمو کې د حوت په میاشت کی کرل کیږي . په یو جریب ځمکه کی د تخم اندازه د 2 نه تر 3kg پورې رسیږي
د کیمیاوي سرو اندازه یې په یو جریب ځمکه کی 45kg urea یوریا او 35kg DAP ښودل شوی ده . پیندی د پاشان په طریقه او هم د قطارونو په طریقه کرل کیږي .
د دوه قطارونو تر مینځ واټن یې د 45 نه تر 60cm پورې او د بوټو تر مینځ واټن یې 25 نه تر 30cm پورې رسیږي . د حاصل اندازه یې په یو جریب ځمکه کی د 2000 نه تر 3000kg پورې ده .

## مرچک peaper

د مرچکو علمی نوم capsicum ammaum کاپسیکوم امایوم دی او د کورنۍ نوم یې solanaceae سولانسیا دی مرچ زموږ د هیواد په اکثرا سیمو کی کرل کیږي .
اکثرا خلک مرچ په خام ، پاخه او وچ ډول استعمالوي . مرچ زیات عذائي ارزښت لري .
لکه : کلیسم ، شحم ، پروتین ، منرالونه ، ویټامینونه ، فاسفورس او داسی نور شامل دي .
د مرچو اصلی ځای امریکا ښودل شوی . چې بیا وروسته ټولی نړی ته خپور شو د یو هکتار ځمکی څخه د 2000 نه تر 3000kg پورې حاصل لاسته راځي . مرچ په 13 سانتی ګراډ درجو ته ضرورت لري د مرچو تخم اول په قوره کی کرل کیږي او وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلی ځای ته ورل کیږي د یو جریب ځمکه لپاره د 200 نه تر 500kg ګرامه تخم اچول کیږي . او په یو جریب ځمکه کی د بزعلیو شمیر د 9000 نه تر 9500 اټکل شوي دي . په یو هکتار ځمکه کی د کیمیاوي سرو اندازه 45kg پوتاشم سلفیت ، 60kg فاسفورس او نایتروجن سرې استعمالولی شو او تقریباً 200 tan حیوانی سرې هم اچولی شوو.

## رومی بانجان Tomatoes

د رومی بانجان علمی نوم lyco persicon – escolentum لیکو پرسیکون اسکلنتوم او کورنۍ نوم یی solanceae سولانسیا .

رومی بانجان اصلی سرچینه د جنوبی امریکا ځخه اخلي ځکه چې زیات ډولونه یی په پیرو ، چیلی او اکودور کی موندل کیږي . په رومی بانجانو کی زیات شمیر عذائي مواد شته . لکه : قندونه ، غضوي اسیدونه ، شخم ، سلولوز او مختلف ویټامینونه شامل دي لکه : $B_6$ . $B_1$ . $B_2$ . A او داسی نور شامل دی . د رومی بانجانو په کرونده کی د حیوانی سری او هم کیمیاوي سری استعمالیږي . لکه فاسفورس ، نایتروجن او پوتاشم سری اچوي نو 35kg نه تر 100kg urea/j او DAP/J ده او په یو جریب ځمکه کی 2150 بوټي کرل کیږي د دوو قطارونو تر مینځ واټن 70 سانتی متره او د دوو بوټو ترمینځ واټن 30 سانتی متره بنودل شوي دي د یو جریب ځمکی لپاره د تخم اندازه 150kg بنودل شویده .
او د یو جریب ځمکه د حاصل اندازه په افعانستان کی 500 نه تر 1200kg بنودل شوي ده

## تور بانجان Bgg plant

علمی نوم یی solanium melongena سولانوم ملنګان دی او کورنۍ نوم یی solanaceae سولانسیا دی . تور بانجان د هغو سبزیجاتو ځخه شمیرل کیږي چې د هندوستان د شمالی سیمو ځخه سرچینه اخلي . تور بانجان ځیني عذائي مواد لری لکه :
پروټین ، غوړ ، اوبه ، کابوهایدریتونه او د A.B ویټامینونه پکی شامل دی .
د بوټی د ودي لپاره مناسبه تودوخه 27 نه تر 30 سانتی ګراډ بنودل شوي په 75 ورځو کی میوه پخیږي . په یو هکتار ځمکه کی 2 نه تر 3tan حیوانی سرې اچول کیږي .
120kg urea ، 60kg فاسفورس او 45kg پوتاشیم ، DAP 40kg سری استعمالیږی .
د دوه قطارونو تر مینځ واټن 70 نه تر 80 سانتی متره او د دوه بوټو تر مینځ واټن 25 نه تر 30 سانتی متره بنودل شویدي . د یو جریب ځمکه لپاره 200 نه تر 500 بنودل شوی او د یو هکتار ځمکی ځخه د حاصلاتو اندازه 2300 نه تر 4000kg بنودل شوي ده .

## بادرنګ Cucumber

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمی نوم ئې cucumis sativus دی کورنۍ نوم یې Cucurbatceae کوکربتاسیا دي . بادرنګ د هند څخه سرچینه اخلي د هغو نباتاتو څخه شمیرل کیږي چې په تودوخه کی کرل کیږي . ځینی ډولونه شته چې د 40 نه تر 50 ورځو کی میوه نیسي . د بادرنګو حاصلات حورا زیات وی په یو هکتار ځمکه کی د 12 نه تر 17 tan ښودل شوي دي د تخم شنه کیدل یی د 12 نه تر 13 سانتی ګراډ خرارت ته ضرورت لري په هر جریب ځمکه کی د کیمیاوي سرو اندازه 20kg یوریا او D.A.P 40kg اچول کیږي .

## هیندوانه Watermelon

علمی نوم یې lanatus لانتز او کورنۍ نوم یې cucurbitaceae کوکربیتاسیا دي هینداوڼې اصلی ځای هند ، چین او افریقا ښودل شوی دي . په هیندوانه کی ځینی ویټامینونه شامل دي لکه A.B.C د هیندوانی وزن د 14 نه تر 25kg پوری رسیږي د تخم شنه کیدو لپاره 25 درجو سانتی ګراډ ته ضرورت لري .
د 80 نه تر 120 ورځو پوری ور څخه حاصل لاسته راځي . د قطارونو تر مینځ واټن یی د 2 نه تر 3m اود بوټو تر مینځ واټن یی 90 نه تر 100cm پوري دي د یو جریب ځمکی لپاره د تخم اندازه 700gr ښودل شوي د کیمیاوي سرو استعمال 20kgیوریا ، DAP 40kg ښودل شوي د حاصل اندازه د یو جریب ځمکی څخه د 9نه تر 11tan ښودل شوي ده .

## ګلپی Guliflomex

علمی نوم یې Breassica – oleraceae براسیکا اولرسیا دی کورنۍ نوم یې Gueiferae ګوسفریا دي ګلپی یو ډیر پخوانی نبات دی چی سرچینه د انګلیستان څخه اخلي . څرنګه چی د ګلپی بوټی یو زیات شمیر مهم مواد لري لکه : ویټامینونه ، پروټین او کاربوهایدریتونه له همدی کبله د نړي په زیاتو هیوادونو کی کرل کیږي د ګلپي د فصل موده 90 نه تر 100 ورځي په برګ کي نیسی او خپل حاصل ورکوي ګلپی دوه کلن نبات دي د یو جریب ځمکی لپاره په قوره کی د 80 نه تر 100gr پوری تخم اچول کیږي د ګلپی لپاره کیمیاوي سری 40kg یوریا ، DAP 50kg او 5 tan حیوانی سرې په یو جریب ځمکه کی اچول کیږي . د حاصل اندازه یی تقریباً 2300kg ښودل شوی ده په یو جریب کی د ګلپی کرنیزي عملې د دوه بوټو تر مینځ واټن 8 سانتی متره او د دوه قطارونو تر مینځ واټن 40 نه تر 90سانتی متره وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

***********

Zakria .net

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**